SHARIAT WEEKLY

# شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې یو ځل خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال پنځه ځلویښتمه ګڼه. پرله پسې (۱٤٥) یکشنبه د۱٤۱۹هق کال دربیع‌الاول (۱۸) د۱۳۷۷ هـ ش کال دچنګاښ دمیاشتي(۲۱) د۱۹۹۸ میلادي کال دجولاي (۱۲)


## د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالي په بشپړه توګه فتحه شوه

**د دښمن د سلو تنو افرادو په نیول کېدو برسېره اته ټانکونه یوه بوځلویښت میله یوه شپاړلس میله یوه دولس میله دستګاوي او زیاته اندازه نوري وسلې مجاهدینولاسته وراغلې**

د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالي په بشپړه توګه د اسلامي اردو د مجاهدینو له خوا فتحه شوه او دوښمن سل تنه افراد د مجاهدینو له خوا ونیول شول.

یوه مسوول خبرګاې د باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل د اسلامي امارت مجاهدینو د خپلو بریالیو عملیاتو په ترځ کې چې په الهي نصرت سره تر سره شول د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالي په بشپړه توګه اسلامي امارت د مخالفینو له شتوالي نه تصفیه کړه او د دښمن څخه دیاسه سل تنه وسله وال افراد یې ونیول. د قیصار ولسوالي د بشپړې فتحې په بهیر کې د دښمن دري ټوپونه، د څلویښت میله یوه دستګاه د بي ام شپاړلس یوه دستګاه دولس میله یوه دستګاه اته ټانکونه او یو اندازه نظامي وسایط د مجاهدینو لاس ته ورغلي دي.

ددغي عملیاتو په بهیر کي دښمن ته د سر په زیانونو برسېره زیات مالي تاوانونه هم رسېدلي دي او دښمن ان له خپلو لېرو ستګرونو نه د تېښتي په حال کې دي.

د قیصار په ولسوالي کي مجاهدین د خپلو سنګرونو په ټینګولو بوخت دي او د دغي ولسوالي خلک چي د مخالفینو د ظلمونو او جابرانو له امله په تنګ شوي و د اسلامي اردو مجاهدینو ته تود هرکلي وایه او د افغانستان له اسلامي امارت سره یې خپل ملاتړ څرګند کړ.

خبر ځاې زیاته کړه په دغي ګلوم مع


### الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدې دی تقوا (پرهیزګاری) ته.

(سورة المائدة)


## په انجنیر نسیم مهدي باندې مرګوني حمله وشوه

د افغانستان د شمالي برخوله د رارسېدلو خبرونو له مخي د اسلامي امارت د مخالفینو په مرکز مزار شریف کښې د بېلا بېلو ډلو تر منځ دښمني ډېره زیاته شوي دي د جنرال دوستم د جنبش ملي نه بېل شوي انجنیر نسیم مهدي باندې د ښار منځ کښې نا معلومو کسانو قاتلانه حمله کړې ده.

نسیم مهدي خو پخپله بچ شوي دي خو دده دوه باډي ګاردان وژل شوي دي. نسیم مهدي ددغي حملې مسولیت د جنرال دوستم په کسانو اچولی دی او ویلي یې دي چي دوستم یو تروریست دي او غواړي چي په زور خپله واکمني ټینګه وساتي. نسیم مهدي ویلي دي چې دوستم د افغانانو دښمن دي او د هیواد دپښتنو سر اړیکي لري. ده وویل چې د نور هیواد په شان د شمالي خلق هم د اسلام مبین دي او هېڅکله به یو اسلام دښمنه سړي حبل مشر په حیث ونه مني.

د یو بل خبر له مخي په مزار شریف کښې د جنبش ملي، حرکت اسلامي او جمعیت اسلامي د مسلحو ځواکونو تر منځ مسلسلې نښتې روانې دي. د جنبش ملي د عالم خان او شورم مع

## د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کیښودل شوه

د کلام الله مجید د څو ایتونو په لوستلو سره په دې وروستیو وختو کي د لغمان ولایت د علي شنګ ولسوالي د غازي اباد د کلي جامع جومات د بنسټ ډبره کیښودل شوه.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ: په هغه غونډه کي چي له همدې امله په دغه ځاي کي جوړه شوې وه څو تنو سپین ږیرو په هیواد کي د سپېڅلي اماکنو د بیادولو په لاره کي د افغانستان د اسلامي امارت د اقداماتو په باب خبري وکړې په هیواد کي یې د جوماتونو ابادول نیک او ارزښتناک ګام وباله.

دغه جومات چي د لغمان ولایت د علیشنګ ولسوالي د غازي اباد د کلي د خلکو په مالي مرسته جوړېږي څه د پاسه څلور سوه لمونځ کوونکي پکي ځائیږي.

## پایتخت فلسطین آزاد بیت المقدس خواهد بود

**یاسر عرفات**

بیت المقدس:

یاسر عرفات رهبر فلسطین گفته است که در سال آینده با ختم دوره عبوری حکومت دارای آزادی محدود، حکومت مستقل فلسطینی را اعلان خواهد نمود. عرفات گفت که طبق معاهده یی که بین فلسطین و اسرائیل امضا شده بود م،ن،ع

طی محفل پر شکوه:

# کار احیا و باز سازی موزیم ملي افغانستان آغاز گردید

تعمیر موزیم ملي از بودجه انکشافی امارت اسلامی افغانستان و همکاری موسسات و سازمان های بین المللی بشکل اصلی آن اعمار میگردد.

با قرائت پیام محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور کار احیا و باز سازي مجدد موزیم ملي افغانستان که در اثر جنګ های رژیم قبلی تخریب شده بود آغاز گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر گزارش میدهد، بهمین مناسبت نشستي در مقر موزیم ملي واقع دار الامان ترتیب شده بود. بعضی از مسوولین وزارت اطلاعات و کلتور روٌسا و مسوولین موسسات نشراتي عده یی از دانشمندان باستانشناسان و عده یی از نماینده گان موسسات فرهنګي بالخصوص د بخش میراث های فرهنګي شرکت ورزیده بودند. ابتدا آیاتي چند از کلام الله مجید قرائت گردیده بعداً کفیل موزیم ملي روي ضرورت مبرم به ترمیم و باز سازي و پروګرام های ترمیماتي و جابجا ی آثار تاریخي موزیم بشکل اساسي و اصلي آن به تفصیل صحبت نمود. گفتنا، عنایات امارت اسلامي افغانستان احیاي مجدد تعمیر موزیم ملي را یکي از وظایف شرعي و اسلامي خود دانسته بخاطر حفاظت و نګهداري درست آثار و ګنجینه هاي آن از هیچګونه سعي و تلاش دریغ نخواهد کرد.

تعمیر موزیم ملي از بودجه انکشافي امارت اسلامي افغانستان ، همکاري موسسات و سازمانهاي بین المللی م،ن،ع

## بی جي پي بخاطر از بین بردن تشخص تاریخي مسلمانان اقدام نمود

دهلي جدید : حزب کانګرس ، بزرګترین حزب اپوزیسیون هندوستان، در مورد تشکیل جدید شوراي مورخین هندوستان اظهار تشویش نموده است. کانګرس می ګوید که درین شوري چنان مورخین شامل کرده شدند که طرفدار نظر بنیاد ګرایانه هندوایزم بی جي پي هستند. کانګرس اظهار تشویش نموده است که توسط

حلورم مع

## د شعر د کره کتنې غونډه

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د شعر او ادب د څانګې له خوا د ربیع الاول د میاشتي په ۱٤ نېټه د هغې څانګې په مقر کې د شعر د کره کتني یوه درنه غونډه جوړه شوې وه. دغې غونډې ته د هیواد پیژندل شوي او تکړه شاعر ملا اسد الله حنیفي خپل شعر د کره کتني لپاره وړاندي کړ چي د غونډې د ګډونکوونکو له خوا د شعر پر ځانګړتیاو او نیمګړتیاوو اوږد بحث وشو.

د کره کتني څخه وروسته یوه خوندوره مشاعره وشوه چي په هغه کي د هیواد ځینو توضیالیو او ځوانو شاعرانو خپل نوي او تازه شعرونه واورول.

څلورم مع

از مقام و موقف معلم:

# طي محفل پر شکوه در شهر کابل تجلیل به عمل آمد

روز پنجشنبه مورخ ۱٤۱۹/۳/۱٥ هـ ق از مقام و موقف معلم در نظام اسلامي طي محفل پر شکوه در شهر کابل تجلیل به عمل آمد.

خبرنګار هفته نامه شریعت از جریان این محفل ګزارش میدهد : درین محفل بزرګ که به ابتکار جامعه دار العلوم کابل در صحن آن مدرسه عالیه دایر ګردیده بود، در آن هزاران تن از شاګردان مکاتب، طلاب مدارس، معلمین ، شهریان عزیز شهر کابل و عده یی از اراکین امارت اسلامي افغانستان اشتراک ورزیده بودند.

در آغاز آیاتي چند از کلام الله مجید توسط قاري معروف کشور، محترم استاد الحاج قاري برکت الله «سلیم» قرائت ګردید که حاضرین را به وجد آورده و با نعره هاي تکبیر بدرقه میشد . سپس محترم مولوي محمد مصدق (قانع) رئیس تعلیمات اسلامي و دار الحفاظ ها در رابطه به نقش معلم صحبت نموده افزودند : معلمین عزیزا امروز مـا و شـمـا تجلیل از آنروزي را میکنیم که داراي ارزش تاریخي مي باشد حضرت محمد «ص» براي هدایت بشر بحیث معلم مبعوث ګردیدند ، از مدرسه محترم و عالي پیامبر «ص» ، انتخاص چون صدیق اکبر «رض» ، فاروق عادل «رض» ، ذي النورین «رض» ، اسد الله الغالب «رض» و غیره مردان بزرګ ظهور م،ن،ع

## په توکیو کې دوه امریکایان د غلا په جرم ونیول شول

**د واړو د یو دکـــــان قلف مات کړي او نغدي پیسي یې غــلا کړي وي**

په توکیو کي دوه تنه غله امریکایان هغه وخت لاس په لاس ګیر شول کله چي دوي د یو دکـان قلف مـات کـړ او نغدي پیسي یې غلا کړي وي.

د تړوالو خبر سرچینو د خبر له مخي دوه تنو امریکایانو هر ۲٤ کلن دارنل هویګنز او ۲٦ کلن مایکل انتهوني شپاړه د جاپان په پایتخت توکیو کي د یو دکان قلف مات کړي او په دکان کي موجودي ۱۱۳۳۸ ډالره یې غلا کړي و د توکیو د پولیسو اداره وایي چي دواړه غله یې لاس په لاس نیولي او اوس هم د دوي په ولکه کي دي پولیسو په امریکا کي د دوي د اوسېدو د ښار نوم نه دي ښودلي ددي غلو دریم ملګري له پولیسو نه په تېښته کي بریالي شویدي.


در اثر یک سیلاب شدید:

### در چین دو صد نفر هلاک و صدها نفر لادرک شدند

بیجنګ :

به اساس ګزارشهاي داده شده به اثر سیلابهاي شدیدي که در چین آمده دو صد نفر هلاک و صد ها نفر لادرک شده اند.

هکذا خبر مي افزاید که هزاران خانواده بي خـــــانه شـــده اند و فـصلهاي ایستاده تباه ګردیده است.


## د پنګه ویشتو ژورو او نیمه ژورو ځاګانو د کیندلو کار پیل شو

د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالي په مربوطاتو کي د پنګه ویشتو ژورو او نیمه ژورو څاګانو د کیندلي کار د یو لړ مراسمو په ترځ کي پیل شو.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د دغو څاګانو د کیندني د کار په مراسمو کي چي د ډاکار موسسې په مالي او تخنیکي مرسته د بګرامیو ولسوالي په مربوطاتو کي پیل شوي دي د کابل ولایت د کلتور د پراختیا او بیا جوړوني رئیس محترم ملا عبدالله عابد د ډاکار موسسې استازي او د سیمي په سلګونو تنو دیندارو خلکو ګډون کړي و.

دغه راز د سویډن د کمیټي استازي د چهار اسیاب ولسوالي په مربوطاتو کي د شپیتو نیمه ژورو څاګانو د کیندني څلورم مع

به سلسله مسابقات جهانی فوتبال :

## برازیل هالند را شکست داد

پاریس : به سلسله مسابقات جهانی فوتبال بخاطر احراز جاه جهاني، جالبترین مسابقه بین تیم هاي برازیل و هالند بود ، تیم برازیل توانست توسط رونالدو فوتبال مشهور یك ګول نماید اما تیم هالند هم توانست یك ګول نماید که به این ترتیب هر دو تیم با وجود تمدید دو م،ن،ع

## یکتن قاچاقبر اسلحه دستګیر ګردید

یکتن قاچاق بر حین قاچاق اسلحه از طرف موظفین آمریت سرحدي تورخم دستګیر ګردید. آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: اسامي نقیب الله فرزند عبدالشکور باشنده ولسوالي سروبي که اسلحه را بشکل غیر قانوني انتقال میداد همراه با سه میل کلاشینکوف از طرف موظفین سرحدي تورخم دستګیر و به څارنوالي محکمه نظامي ولایت ننګرهار تسلیم داده شد.

## سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

... الذین ان مکنا هم فی الارض اقاموالصلوة ... ۳۹-٤٠-٤۱ سورة الحج

# لمونځ د دین ستن ده

لمونځ د دین ستن ده چي لمونځ ودان وي دین دوان وي چي لمونځ وران وي دین وران وي، لمونځ له ایمان څخه وروسته د ټولو عبادتونو سردار دي، قرآن مجید او احادیثو مبارکو له ایمان څخه وروسته، چي هغه د ټولو عبادتونو د وجوب او صحت شرط دي - په لمانځه زیات ترکیز کړي دي، په فقه شریفه کي څومره تفصیلات چي د لمانځه په هکله راغلي دي د بل هیڅ عبادت په باب هغومره نه دي راغلي؛

دا واړه د لمانځه د شرعي قدر او قیمت له امله دي، دا ځانګړي خصوصیت چي قرآن مجید فرمایي : لمونځ بې له شکه له بدو کارونو او منکراتو نه ایند منع کوي بوازې د لمانځه په هکله بیان شوي دي خو دا هله کیداي شي چي لمونځ سم وکړاي شي؛

جناب عالیقدر امیر المؤمنین ته دې الله تعالی لا زیات توفیق اوږد عمر او زیاته د خیر لاربښوونه وکړي چي الله تعالی د ټولو خیرونو او ګټو د راجلبولو او د ټولو منکراتو او مفسیدتونو د بندولو کلي په لاس ورکړه او د لمانځه په هکله یې خاص اهتمام پیل کړ.

دوهم مخ

# شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»

مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»

دیوې ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداری

پوست بکس : (٤۷۱) تیلفون: ۲۰۰۷٥

په پېښور کي : د طالبانو نمایندګي تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۳۷

جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : دولتی مطبعه


## د سرمقالې پاتې برخه

په اسلام کي هوښیارو حاکمانو او سلفو صالحینو رضي الله تعالي عنهم د غه کلي (کونجي) په لاس کي اخستي وه چې په اسلامي ټولنه کي خیرات او برکات، بري او سر لوړي حاکمه وه بیا چې کله یې دغه کلي له لاسه ولویده، نو د ذلتونو، اهانتونو بې اتفاقیو او قحطیو لړۍ پیل شوه چې لا اوس هم روانه ده؛

الله تعالي دي اسلامي امت ته نور هم داسې هوښیار او د رښتیني عقل خاوند مشرتوب ور په برخه کړي چې د ټولو بریالیتوبونو او ښیرازیو د اصلي مزي سر پیدا کړي او په لاس کي یې ونیسي؛

وایي چې: ( د دنیا په چارو هر سړي هوښیار دي - چې سړي پرې سړي کیږي عقل بل دي) جناب عالیقدر امیر المؤمنین - سلمه الله تعالي و وفقه- په خپله وروستي مرکه کي چې د لمانځه د فرمان د توضیح لپاره یې کړي ده څومره د هوښیاري خبره کړي ده چې پوښتنه ورڅخه وشوه :« تاسې د خلکو له سم لمانځه ادا کولو نه څه تمه لرئ او کومې ګټې مو په پام کي نیولي دي؟؛

زمونږ په پام کي دا خبره او هیله ده چې په اسلام کي لوي او بنسټیز رکن لمونځ دي، لمونځ چې سم زده کړاي شي او مسلمانان یې په سمه طریقه سره ادا کړي نو ښه اثرات او پایلي به یې په ټول هیواد کي ښکاره شي ځکه چې الله تعالي فرمایلي دي : لمونځ یې له شکه بندطلبدواومنکراتوڅخمنعکوي؛

کله چې فحشاء او منکرات په هیواد کي له منځه ولاړ شي یقیناً به آرامي راشي او مسلمانان به په خپله د ژوند په مزه وپوهیږي ، نو ځکه مو له خلکو نه تمه او غوښتنه دا ده چې د لمانځه سمه اداء زده کړي او دغه زده کړه د ځان لپاره شرم او پیغور ونه ګڼي... لمونځ چې په سړه هوا یا ګرمي کي اداء کوي، تکلیف تیروي او لمونځ یې سم نه وي نو یو خو د دوي خپل ضرر پکښې دي او بل یې په ټول هیواد باندې بد اثرات پریوزي ځکه : لمونځ د اسلام یو لوي رکن دي ...»

دا رښتیا خبره ده چې د ځمکي په مخ د انسانانو سر کشي او بې لارې د الله تعالي جل جلاله د قهر سبب ګرزي او د تباهي سببونه را پاروي لکه چې په قرآن مجید کي د بې لارو، سرکشو اوکفاروقامونودتباهي کیسي (قصې) راغلي دي؛ او کومو قامونو او افرادو چې د انبیاوو کرامو ( علیهم الصلوة والسلام) دعوت او تعلیم منلي دي او د الله تعالي په لاره سم تللي دي هغوي له هلاکت او تباهي نه ژغورلي او په دنیا کي یې نیکمرغه ژوند تیر کړي دي په اخرت کي به هم سر لوړي او ښیرازه وي، نو ځکه ویل شوي دي چې : د پیغمبرانو لړۍ - علیهم الصلاة والسلام د ټول عالم لپاره د الله تعالي رحمت دي؛

الله تعالي دي لومړي امامانو صاحبانو ته د ښه تعلیم او پوره اهتمام او هم زمونږ مسلمانانو، دینداراو او مجاهدو هیوادوالو ته وس او توفیق ورکړي چې نر او ښځې لمونځونه سم زده کړي او سم یې ادا کړي او په دغه ترتیب سره د دنیا او اخرت د سر لوړیو، بریالیتوبونو او ښیرازیو راز او کونجي په لاس کي ونیسي، دنیا اوخرت یې ودان شي. آمین

ربنا اتنا من لدنك رحمة و ...

## ؟

په ډېلي کي چاپېدونکي میزان خپرونې نوې ګڼې هغه بله ورځ راورسیده، زه او د میزان چلوونکي د یوه سنګر دوه یاران وو چې اوس وخت او حالاتو سره دومره لیرې کړي یو چې د یو بل په مخالفت کي یې درولي یو .

د میزان چلوونکي زما د مدرسې د وختونو انډیوال دي بیا دواړه له یوه تنظیم سره وپیوستل شوو، ده د تنظیم له مشر سره نژدې خپلوي درلوده او د سردارانو په ډله کي ؤ خو ده سر داري او زما غریبي زموږ د مینې او انډیوالي په مخه کي یو له بل ګرځیده. په هجرت کي موږ دواړه په یوه ارګان کي په خدمت بوخت شوو. ګڼې هلې ځلې مو کولي دي د میثاق خون مجلې او د مجاهد جریدې چلوونکي وو. تصادف د ګوره موږ دواړو په یوه وخت کي مجله او جریده پرېښوده زموږ د استعفا لاملونه بیل وو خو مهال یې یو وو .

موږ په هجرت او جهاد کي خپله اشنایي ماقبل التاریخ ګڼله، د جهاد تر پایه زموږ مینه، انډیوالي او دوستي پر ځاي وه بیا زموږ لارې بیلې شوې اوس موږ دواړه د بیلا بیلو لارو مسافر یو .ده اواز ماته له ډېرو بندیزونو او خنډونو وروسته راورسېږي کله د خپرونو په مخونو او کرښو کي کله په تیږ تورته کاغذ کي؛ زما غږ هم د بوي او بلو خپرونې په پاڼو کي په هوا شي او په لیرې لارو تر ده پوري ځان ورسوي.

د میزان د نوي ګڼې په څلورم مخ کي د استاد سیاف یو نوی تصویر خپور شوی، همدغه تصویر ددغه لیکنې بنسټیزه موضوع ده، د استاد سیاف ږیره په تصویر کي ټوله سپینه معلومېږي، دې چې کله له بندیخانې پیښور ته راغی ږیره یې تکه توره وه - کله چې د مجاهدینو پنځو تنظیمونو خپل یووالي اعلان کړ، دی یې مشر شو، ډېرو ځوانانو چې ټولو خپلې هیلې دده ترقیادت پوري تړلي وې .

د اتحاد اسلامي جریدې ته د اختر په مناسبت د یوه پیغام له پاره د استاد کور ته ورغلم، دده کور د تاکال په یوه پارتسان کي ؤ، د دریو کوټو یو معمولي کور ؤ، لاندې په پټه دروازه کي یې وروړ پریوه شلیدلي کټ ناست ؤ نه پیره وه او نه تالاشي، په کوټه کي عادي سطرنجي غوړېدلي وه، د ډېکرې د بازار خو زړې توشکې پرتې وې. د چت پکي په لومړي درجه ګرندي چورلېده او چنګاښ د ګرمي دوزخي لمبې یې شنډلي، ټول په خولو کي لانده خیشته وو خو د استاد سیاف صاحب مجلس او دیدن دا هر څه د سهلو او زغملو وړ ګرځولي ؤ .

استاد وویل : دا څو کرښې مې درته لیکلي نور هم بشپړوم. ده به کله یوه نیمه کرښه ولیکله او کله به یې څو دقیقې له ناستو کسانو سره خبرې کولې زه اوس داسې ګڼم لکه سیاف صاحب چې زما پر کمزوري پوه شوی وي ځکه خو یې د پیغام لیکل ځنډول او پر ماڼۍ هغه څه لیدل چې زه یې تر اغیز لاندې راتلم.

غرمه شوه د سترخوان وغوړول شو، د چو دال کاسې کېښوول شوې استاد سیاف پیاز وغوښتل یوه ځوان په لمن کي د پیازو غوټې راښکولي وې او پر دستر خوان یې راوغړولي - سیاف صاحب پکي یوه ستره غوټه راواخیسته په سوک یې ووهله څلور ټوټې یې کړه د یوه بل مخ ته یې کېښوده.

دا هغه صحنه وه چې زموږ ځوانو جذباتو ته یې تیلي ورته کړ، زما به له یوې خوا زړه غوښتل چې همداسې د استاد په مجلس کي ناست وم له بل پلوه مې دا هیله وه چې ژر پاڅېږم او دغه خبره او کیسه ټولو انډیوالانو ته ورسوم، ژبرې پرې وکړم چې غم ته کوي موږ خپله ورکه توره موندلې ده څه وخت لانه ؤ تیر چې استاد سیاف په دوهم پوړکي د هغو دریو کوټو کور سره په مخه ښه وکړه خبره قصرونو او ماڼیو ته ورسیده او د مزمل صاحب په وینا ده هم د خان آباد مخه ونیوله .

په پسو «هجرت کلي» کي د قصرونو او ماڼیو بهرني دیوالونه خټین وو خو دننه کیسه بله وه . پیسرې شوې - بندیزونه شول د بادیګاردانو لیکې شوې تر دې چې بله ورځ د جومات د محراب له څنګه ورته ځانګړې دروازه کېښودل شوه د خداي کور او عبادت ته هم دده لاره له نورو مسلمانانو بیله شوه، دی د خداي کور ته هم په ځانګړې دروازه ننوت، وخت او حالاتو دی او خلک دومره سره بیل کړل، دومره فاصلې یې رامنځ ته کړې چې د خداي په کور کي یې هم ده ته ځانګړې لار، او دروازه پرانیستله.

ماته به د چو دالو او پیازو هغه صحنه سترګو ته ودریده ، بیا به مې د جومات له محراب سره هغې دروازې ته وکتل په خپله سادګي به مې وخندل .

موږ څومره ساده او قانع یو، پر سوک د یوه پیاز په ټوټې کولو هم خلکو ته د قیادت دستارونه تړو او د فضیلت ، تقوي او عظمت سندورکوو موږ له خپلو مشرانو څه هیلې لرلې؟ دوي یو عادي اکت او حرکت مو هم د دوي عظمت او معراج ګڼلو.

## پټې پاڼې

شهرت ننګیال

خبره د استاد د اوسني تصویر وه، د کابل په یغمان او باغ بالا کي لا دده ږیره دومره نه وه سپینه شوې، دده ږیره جبل السراج او تخار سپینه کړه، له ځان سره مې وویل دریغه د استاد ږیره د وطن او خلکو په خدمت کي سپینه شوې واي نه د جبل السراج په توطیو او سازشونو کي .

د امریکې پخواني جمهور رئیس جیمي کارټر په خپلو خاطرو کي لیکي : د اقتدار درې ورځې راپاتې وې په سپینه ماڼۍ کي دا ورسیدو درې ورځې وخت درلود، د نوي جمهور رئیس مبارکي ته ورغلی وم، د خپل ضروري او شخصي سامان په ټولولو لګیا وم، لورمې وبل پلاره په سپینه ماڼۍ کي مې زړه تنګ دی چې څومره ژر کیداي شي باید لدې زندان نه ووځو - تا ځایه مې هندارې ته پام شو ږیره مې رسیدلې وه، دلته پوه شوم چې جمهوري ریاست او د سپینې ماڼۍ ژوند څومره بوډا کړی یم .

د کارټر ویښته د امریکې او امریکایانو په خدمت کي سپین شوي وو او همدغه خدمت ځیلي او بوډا کړی ؤ .

که استاد سیاف کله هندارې ته وګوري، خپلې سپینې ږیرې ته یې پام شي څه به وایي چې زما ږیره په څه کي سپینه شوه ؟

یو وخت مې د پاکستان په «خبرین» ورځپاڼه کي د اظهر سهیل کالم لوست دا هغه مهال ؤ چې ښاغلي نواز شریف له اقتدار نه بې برخې ؤ او د بینظیر بوټو حکومت ؤ دی لیکي : موږ له لاهور نه اسلام آباد ته راتلو په الوتکه کي یوه چوکۍ داسې وه چې هیڅوک پرې کیناستو ته حاضر نه وو، ماته د الوتکې یوې خدمتګارې وویل : که پر هغه چوکۍ کښېنې ډېره مهرباني به دې وي، که ګورم پر چوکۍ نواز شریف یواځې ناست دی، ځینې وزیران په نورو چوکیو ناست دي، ده مخې ته اخبار نیولی ؤ - اسلام اباد ته په رسیدو میلمه پاله راغله ده ته یې وویل : که ستاسو څه فرمایش وي وي وبل کي پیلوټ څه اعتراض ونلري غواړم کابین ته ورشم او د الوتکې د کوزیدو منظره وګورم میلمه پاله بیرته راستنه شوه، وې ویل مهرباني وکړې.

اظهر سهیل لیکي: د ښاغلي شریف پر نورو ویښتو سپین غالب ؤ په زړه کي مې وویل دریغه چې ده د اقتدار په وخت کي د کوزیدو او نزول ننداره کړې واي ښایي دی اوس هم د کوزیدو د منظرې له ننداري نه همداسې یو څه لیدل غواړي خو د نزول او ځوړتیا د منظرې لیدل د اقتدار پر مهال خوند کوي.

سیاستوال او لوي شخصیتونه د خپل وطن په خدمت کي ځواني خاورې کړي، ویښتان سپین کړي او ژوند وقف کړي خو له بده بخته زموږ د وطن په تخریب او دښمنۍ کي داسې کوي، خداي حاضر دی زه ډېر خوابدی شوم چې اخر استاد به سبا او راتلونکي ته څه وایي چې توره ږیره یې په څه کي سپینه کړه ؟ په جنګ ، تباهي، بربادي او وطن دښمنۍ کي، د تاسف ځاي دی چې موږ نه له اقتدار نه عبرت واخیست نه یې له محرومیت نه .

ډېر داسې د خیر او ښیګڼې چارې وې او شته چې استاد پکي خپله ږیره سپینه کړې واي چې هغه د دنیا او اخرت عزت او درناوي ګټل کیده نه افسوس او هیهات .

## کورنی فقه

پرله پسې (٤۰)

# د سرو او سپینو زرو، وریښمو او جواهراتو د استعمال حکم

## د سرو او سپینو زرو او جواهراتو د لوښو او د وریښمو د بسترې استعمال

قاضي محمد حسن "حقیار"

د سرو او سپینو زرو او جواهراتو د لوښو او د وریښمو د بسترې استعمال

څرنګه چې د یو انسان لپاره د ژوند په ټولو چارو کي اسراف او تکبر ښه ندي همدا راز ده ته په کار دي چې د ټولو هغو لارو مخه ونیسي کومې چې دی د اسراف او تکبر خواته مخ کوي، هر مسلمان باید ددې زمینه برابره نه کړي او په خپل لاس دا امکانات برابر نه کړي چې دی پرې له تکبر او غرور څخه مخ کیږي. د همدې لپاره اسلام دا حرام وګرځول چې یو مسلمان دې په خپل کور کي د سرو او سپینو زرو ظروف استعمال کړي او یا د خالصو وریښمو فرش استعمال کړي او کوم څوک چې دا ډول کوي نو د رسول الله «ص» له سخت وعید سره به مخ شي حضرت ام سلمة «رض» روایت کوي چې رسول الله «ص» فرمایي « ان الذي یاکل و یشرب في انیة الذهب و ... »

یعني : « هر هغه څوک چې د سرو او سپینو زرو په ظروفو کي خوراک او څښاک کوي په تحقیق سره خپلې ګېډې ته د دوزخ اور ننباسي» مسلم.

حضرت حذیفه «رض» فرمایي : « نهانا رسول الله «ص» ان نشرب في انیة الذهب ... »

یعني : رسول الله «ص» موږ د سرو او سپینو زرو په ظروفو کي له خوراک او څښاک څخه او د وریښمو او دیباج له اغوستلو او پرې له کښېناستلو څخه منع کړي یو او ویل به یې چې « دا د کفارو لپاره په دنیا کي دي او زموږ لپاره په اخرت کي دي» بخاري کتاب اللباس

حضرت عمر «رض» حضرت عتبه «رض» ته ولیکل چې رسول الله «ص» ویلي دي « لایلبس الحریر في الدنیا ... » یعني « نه اغوندي وریښم په دنیا کي څوک مګر هغه چې په اخرت کي به یې وانه غوندي» بخاري کتاب اللباس

ابن ابي لیلي روایت کوي چې حضرت حذیفه «رض» په مدائن کي له یو چا څخه اوبه وغوښتلې یو کلیوال سړي ورته د سپینو زرو په جام کي اوبه راوړلې نو حضرت حذیفه «رض» دا جام وغورځاوه او وې ویل چې ما « نه دی غورځولی دا جام مګر دا مې منع کړ چې بیا یې وانخلي رسول الله «ص» فرمایلي دي چې سره او سپین زر، وریښم او دیباج دا په دنیا کي د کفارو لپاره دي او په اخرت کي ستاسو لپاره » بخاري کتاب للباس.

حضرت ابن زبیر «رض» روایت کوي چې محمد «ص» ویلي دي « چا چې په دنیا کي وریښم واغوستل په اخرت کي به یې وانه غوندي » بخاري

حضرت انس ابن مالک «رض» روایت کوي چې رسول الله «ص» فرمایي : « چا چې په دنیا کي وریښم واغوستل په اخرت کي به ترې محروم وي » . بخاري

او دا د اسلام عامه قاعده ده چې کوم شي حرام وي هغه په تحفه کي ورکول او استعاره ورکول هم حرام دي.

د سپینو او سرو زرو د ظروفو او وریښمو او دیباجو د بسترې حرمت د نارینه او ښځو د واړو لپاره یو برابر دی ځکه چې دا شیان حرام شوي هم د همدې لپاره دي چې د نورو وجوهاتو ترڅنګ کور د مادي عیش د ناوړه سامان نه خالي وي او داسې څه په کور کي وجود ونلري چې پخپله د کور خاوند د تکبر او غرور په اس سپور کړي او یا هم ددې سامان په لیدلو د فقرا او اونیستمنو زړونه مات شي.

پاتې لري

## بر ماست تا گنجینه ملی خویشرا احیاء نمائیم

احمد ضیا "شریفی"

طوریکه بر همه واضح است ملتها در نتیجه، قرنها زندگی با همی و با دیدن فراز و نشیب های فراوان تشکل پیدا می کنند و هویت خاص خود را در می یابند بدین جهت برای یک ملت، تاریخ گذشته اش از اهمیت ویژه بر خوردار می گردد که البته این تاریخ قسماً به صورت معنوی در روایات، افسانه ها، کتب و اثار زبانی ، اسناد و مکاتیب انعکاس پیدا میکند و قسماً به شکل آثار مادی و فزیکی چون بناء ها، آبدات، ابزار، لباس، محل رهایش و وسایل و آلات بخشهای مختلف زندگی تجلی مییابد که به حیات یک ملت در دوره های مختلف زحیات آنها مربوط میباشد.

همانگونه که یک انسان برای اینکه بتواند در حیات خویش بطور مشخص تصمیم بگیرد، ضرورت دارد که گذشته، خود را یکبار مرور نماید، به همین سان یک ملت نیز ضرورت دارد که برای استواری هر چه بیشتر خویش و همچنان برای اینکه خود را بسازد باید باری به ارزشهای مادی، معنوی، و روحی که از گذشته برایش مانده است با دقت توجه نماید. و با در نظر داشت آن ارزشها، جریان خود سازی خویش را اگاهانه تسریع بخشد.

افغانستان با داشتن تاریخ طولانی یکی از باستانی ترین کشور های جهان است که در طول سده ها مهد پرورش فرهنگها و تمدنهای عظیمی بوده که تا کنون جهان بخود دیده است . اما با دریغ که در عصر اخیر کاوشهای باستانشناسی و تحقیقات تاریخی به شکل عصری آن آغاز گردید، افغانستان بنا بر موقعیت حساس ستراتژیک و سیاسی خویش مفاخر و گنجینه های بزرگ آن نه تنها نا شناخته ماند بلکه بر اساس اعتراض حکمروایان دست نشانده، استعمار به رایگان تقدیم این یا آن کشور همسایه گردید. و یا مفاخر بزرگ آن را به ساده گی از وی گرفتند و به این و آن بخشیدند که البته این پروسه را شرق شناسان غرض الود روس و بریتانیا بیشتر در جهت انحرافی تسریع بخشیدند که خود قصه، درد آلود طولانی تاریخ این سرزمین مردخیز است . سرزمینی که در طول تاریخ به یغما گران و استعمارگران از هر دستی که بوده جواب رد داده است و مردمانش به آزادی زیستانند.

اگر تاریخ پر عظمت کشور خویش را به دقت مرور کنیم چه از دوره پر عظمت اسلامی که در حقیقت تمدن اسلامی که در عربستان زاده شده بود در این دیار به اوج عظمت خود در دوره محمود غزنوی تثبیت شد چه از دوره، ماقبل اسلام که در حقیقت یکی از قدیمترین تمدن که آریایی نامیده می شود بطور مثال در دوره، «یما» پادشاه توانست در حیات بشری یک نقطه عطف محسوب گردد : از خود برای ما اثاری زیاد به جا گذاشته است که باید بازشناسی شود و حفظ گردد و از آن در جهت شناخت هویت حقیقی ملت ما استفاده به عمل اید. چه طوری که گفتیم تا کنون ملت ما توانسته است از امکانات خوب سیاسی برخوردار باشد که فرزندان راستین آن بتوانند حقایق تاریخی خود را از روی این آثار به رشته، تحریر در آورند.

موزیم ملی که امروز بخاطر احیای آن در این جا گرد هم آمده ایم یکی از غنی ترین موزیم های جهان می تواند محسوب شود که متأسفانه در دوره های مختلف چه در دوران تسلط کمونست ها و چه در دوره رژیم گذشته صدمات قابل ملاحظه یی دیده است، مخصوصاً در جنگهای تنظیمی که به وسیله بیگانه گان بخاطر زدودن هویت ملی ما انجام میگرفت چندین بار این موزیم دستخوش چور چپاول قرار گرفت که همه، ما شاهد آن بوده ایم . طوری که اثار آن در برابر پول های هنگفت زیب و زینت موزیم های جهان قرار گرفته است، بدون آنکه فرزندان اصیل این کشور بتوانند از آن در جهت شناخت ملی خویش استفاده کنند.

امیدوار هستیم امروز بتوانیم در طی این محفل اذهان روشنفکران این کشور و جهانیانی که علاقمند تاریخ ما است متوجه نقطه، نمائیم که توسط آن می توانیم کشور خود را خوبتر نخست برای خود ما و بعد برای جهانیان معرفی داریم .

## د ملي موزيم د بيا رغوني په هکله د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د سرپرست محترم ملا امير خان متقي پيغام

د افغانستان د ملي موزيم د بيرته ودانولو د پرانستي غونډي برخه والو!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

اما بعد : د الله تعالى حمد او شکر ادا کوم او وياړم چي داسي يوه ورځ راورسيده چي د هيواد د يوه کلتوري مرکز او تاريخي ... د ساتني دوران شوي او لوټل ، انګړ د بيرته ودانولو د پرانستي په غونډه کي له تاسي سره په خبرو ګډون کوم او په تن له تاسي ... لري د مظلومو هيواد والو د زغورتي په هڅو کي لګيا يم؛

په ډير تاسف سره وايم چي ټول هيواد او د هيواد دغه کلتوري او تاريخي انګړ د داسي چا په لاسونو ويجاړ او لوټ شو چي دعوي د روښن فکري او اسلامي بنسټ پالني دعوه په شلګونو کلونو چلولي وه، هغوي د خلافت راشده «رضي الله تعالى عنهم» د بيا را ژوندي کولو او پالني شعار ډير زيات تکرار کړ او مسلمانانو ډيري زياتي تمي او هيلي په دوي پوري وتړلي مګر له بده مرغه دا هيلي يي ټولي له خاورو سره برابري کړي او هغه څه يي تر سره کړل چي د دوي اصيل خوي او خاصيت ؤ تن چي د تاسي مخي او شانته، يوه څنګ بل څنګ ... تر شلګونو کيلو مترو پوري روغه خونه يا روغ ديوال په نظر نه درځي دا د هغو بربڅو شهکار(!) او تبهکاري ده چي د خلافت اسلامي علی نهج الخلافة په شعار يي په مليونونو دالري ټولي کړي او لا تن يي هم د اسلامي شريعت د نفاذ او قيام په دښمني کي لګوي، تاسي ګورئ چي دا اوس هم زموږ مظلوم او مسلمان هيواد وال د دوي د راکټونو، ظلمونو، چور او لوټماريو له لاسه زګيروي کوي؛

مګر اوس الحمد لله د هيواد په څه د پاسه اتيا فيصده خاوره کي د شهيدانو کرامو «رح» ارمان تر سره شوي دي، اسلامي شريعت ... او بشپړ امنيت تامين دي . هيواد وال د عاليقدر امير المؤمنين تر ديندار قيادت لاندي د اسلامي امارت په څنګ کي کلک ولاړ دي د ... تعالى شکرونه ادا کوي او د خپل اسلامي نظام د ټينګښت په لاره کي په خپل نفس نفيس قربانۍ ته ولاړ دي.

اميد دي چي الله تعالى به د پرديو د مزدورانو د شر او فساد ځالي د هيواد د مخلصو او مسلمانو زامنو د اخلاص او قربانۍ ... ډيري ژر ونړوي او ځوريدلي هيوادوال به ورنه خلاص کړي ؛

اوس ددي وخت رارسيدلي دي چي په ګډه سره د خپل ګران او اسلامي ټاټوبي د بيا ودانولو لپاره کلکه ملا وتړو او خپل وران هيواد له سيالانو سره برابر کړو. ربنا عليك توکلنا و اليك انبنا و اليك المصير .

ستاسي ورور ملا امير خان «متقي»

## پيام آقاي «انريکوکرادو دميو» سفير کبير ايتاليا و رئيس انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان (SPACH)

به کفالت از همه اعضاي کميته، اجرائيوي انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان با مسرت زياد سلام هاي ګرم خويش را به حاضرين محفل امروزي تقديم ميدارم .

انجمن حفظ از ميراث فرهنګي افغانستان با مسرت اطلاع حاصل نموده مبني بر اينکه وزارت اطلاعات و کلتور دست به اعمار مجدد تعمير موزيم کابل واقع دار الامان زده است . انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان اين عمل نيك وزارت متذکره را مبني بر بخرج دادن تلاشهاي شان جهت حراست از ميراث کلتوري افغانستان مورد ستايش قرار ميدهد .

انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان نسبت عقب افتادن موزيم کابل براي چندين سال تاثرات خويش را ابراز ميدارد. بعد از حملات راکتي ماه مي ۱۹۹۳ انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان به کمك مؤسسه هبيتات ( مرکز اسکان بشر ملل متحد) با مسدود نمودن کلکين هاي تعمير موزيم ذريعه بلند نمودن خشت و نصب دروازه هاي فلزي توانست از به غارت رفتن قسمت بيشتر آثار قديمي اين ګنجينه، پر بها جلوګيري نمايد. همچنان در ماه سپتمبر ۱۹۹۶ انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان توانست هکاري اش را مبني بر بسته بندي، براه انداختن موجودي و انتقال بقيه اقلام اين مجموعه به هوتل کابل پيشکش نمايد.

از همان زمان به بعد انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان در تلاش آن بر امد تا موجودي يي را مبني بر اقلام باقيمانده اين مجموعه به کار ببندد. طوريکه شما اګاه خواهيد بود انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان با شوراي بين المللي موزيم ها مقيم پاريس در تماس شده و کوشيده است تا وضع فعلي مجموعه، موزيم کابل را به توجه همه موزيم ها و ګرد آورندګان چنين آثار در سرتاسر جهان برساند. و همچنان شوراي بين المللي موزيم ها در نظر دارد تا با انتشار بروشور هاي مبني بر آثار به سرقت رفته، اين مجموعه (موزيم کابل) بتواند عده، از آثار متذکره را اعاده نمايد که يقيناً بخرج دادن چنين تلاشها مثمر واقع خواهد ګرديد . انجمن حفظ ميراث فرهنګي افغانستان مطمئن است که همکاريهاي ثمر بخش اش با وزارت اطلاعات و کلتور به شکل متداوم ادامه داشته و همچنان اميدوار است تا چند ماه دیګر بتواند مراحل موجودي اقلام موجوده، موزيم را به پايه، اکمال برساند.

تمنيات نيك من نثار آناني باد که در راه اعمار مجدد موزيم کابل ابتکار بخرج داده و در احياء مجدد خانه، کوشيده است که در ګذشته ها يکي از مجموعه هاي شايسته، ديدني جهان محسوب ميګرديد.

# د کلتوري مرکزونو بيا رغونى ته زياته اړتيا ده

پوهنيار محمد اسمعيل «يون»

په تيرو شلوکلونو کي د جګړي د بيلا بيلو عواملو، لړيغارو او لوټچارو له خوا د افغاني ټولني د ژوند هري خواته دومره زيانونه اړول شوي چي هيڅ بشري ټولني به تر اوسه پوري دا ډول تاورين نه ليدلي وي او نه زغملي .

په دي ګڼو زيانونو کي چي زموږ د ټولني د نورمال ورځني ژوند انډول او توازن ته يې سخته ضربه ورکړه يو هم فرهنګي زيان دي.

فرهنګپوهان او ټولنپوهان فرهنګ د ټولني مغز او اعصاب بولي، هر کله چي په ټولنه کي د احساس ځاي او مرکز کوم ټپ او زيان ووينى نو ټول وجود ورسره په لرزه شي او له کنټروله ووځي د هيواد د ښمنانو په يوه وخت کي ديوه منظم پلان له مخي د ټولني د وجود په رغنده برخو باندي ډول ډول تاورينونه راوستل.

د هيواد فرهنګ ته دومره زيانونه واړول شول چي هغو ته دقيقه پاملرنه پر هر حساس زړه‌او د هر د غم لمبي بلوي.

له ۳۵۰۰ څخه زيات ښوونځي رنګ کړاي شول، که چيري دا ښوونځي نه واي رنګ شوي نو تر ۷ ميليونو افغانانو پوري به يکي منځني زده کړي کړي واي.

د ټول هيواد په کچه تر ۳۰ د لوړو زده کړو مرکزونه موجود ؤ اکثره يې د جګړي په ترڅ کي يا په بشپړ يا په نيمه زيانمن شوي دي.

(۱۵) لوي ننداړتونونه او په لسګونو واړه ننداړتونونه له منځه وړل شويدي. د ملي ګالري په سونو اثار غلا شوي او نوري وړي ګالري هم چور شويدي .

۱۵ لويي چاپخوني او ګڼ شمير نوري وړي چاپخړاني چور او تباه شوي چي په سلګونو ميلونو دالرو ته يي زيان رسيږي ګڼ شمير ورځني او مهالني خپروني له منځه وړل شوي.

په لسګونو لوي او په سلګونو واړه کتابتونونه چور شوي دي، په ټولنيز ډول تر شل مليونو ټوکو پوري کتابونه جوړ اوسيړل شويدي . د بيلا بيلو ارشيفونو ځني اثار غلا شوي او د ګڼو کتابتونو له منځه تر ۲۷ زرو زيات قلمي اثار چي تر اوسه يي د چاپ مخ نه وليدلي چور او تباه شوي دي . يوازي د افغانستان راديو او تلويزيون ته تر ۳۰۰ ميلونو دالرو پوري زيان اړول شويدي.

ددي ګڼو فرهنګي زيانونو په منځ کي چي هر يو پخپل ځاي کي د زيات ارزښت او اهميت وړ دي خو د افغانستان ملي موزيم ته چي کوم زيان اړول شوي هغه نو په دردونو کي د درد د يوي څړيکي په شان دي چي زموږ د ټولني ټول فرهنګي بدن په لرزه راولي. دلته به د ملي موزيم او د هغه د چور او تالان د غمېز داستان په باب په لنډيز سره رڼا واچول شي.

